Llywodraeth Cymru
Welsh Government

ADDYSG CYMRU
EDUCATION WALES
cenhadaeth ein cenedl | our national mission

# د ویلز د تعلیمي نصاب لارښود

دا لارښود همداشان په دغه لینک کې hwb.gov.wales
په 18 ژبو کې د لاسرسي وړ ده.



# زده کړه د بدلیدو په حال کې ده

**نړۍ په پرله پسې توګه د بدلیدو په حال کې ده او موږ نویو نظریاتو او په نوښتګرانه توګه د ټکنالوژۍ کارولو ته اړتیا لرو.**

د دې ننګوونو د له منځه وړلو لپاره، د ویلز حکومت غواړي داډ تر لاسه کړي چې ستاسې ماشوم هغه پوهه، مهارتونه او ښوونیزې تجربې لري چې په ژوند کې ترې د زیاتې ګټې اخیستنې لپاره ورته اړتیا لري.

ستاسې د ماشوم په ښوونځي کې شته تعلیمي نصاب د **ښوونکو له خوا جوړیږي**. هغوی هغه لارښوونې کاروي چې نورو ښوونکو هغه لیکلي دي تر څو له هغوی سره په دې برخه کې مرسته وکړي چې زده کوونکي څه شی زده کوي.

نوی تعلیمي نصاب د **ټولو ماشومانو لپاره جوړ شوی دی**. دا به ستاسې له ماشوم سره د ژوند په ریښتیني معنی د نوښتګرو درسونو پر مټ مرسته وکړي. دا به د هغوی له اړتیاوو سره مناسب وي او هغوی سره به مرسته وکړي چې خپل بشپړ ظرفیت ته ورسیږي.

نن ورځ نړۍ ډېره زیاته له یوه بل سره نښتې ده، نو څه شی چې دوی زده کوي هغه هم له یوه بل سره نښتي دي. پوهنه ډېره زیاته مهمه ده او هغوی ته به هم هغه مهارتونه او تجربې ورکړل شي کوم چې هغوی به یې په **چټکې بدلیدونکې نړۍ** کې ورته اړتیا ولري.



ستاسې ښوونځی ستاسې له ماشوم سره مرسته کوي تر څو:

- یو هیله من او وړ زده کوونکی او په خپل ژوند کې د زده کړې لپاره چمتو واوسي
- یو کارزېږوونکی او نوښتګر مرستندوی واوسي تر څو په خپل ژوند او کار کې د خپل ټول رول لوبولو ته چمتو واوسي
- یو اخلاقي او باخبره تبعه واوسي تر څو په ویلز او نړۍ کې خپل بشپړ رول ولوبوي او
- یو سالم او ډاډمن کس واوسي کوم چې د ټولنې د یوه ارزښتناک غړي په توګه خپله د خپل بریالي ژوند پر مخ وړلو لپاره چمتو واوسي.

دا د همدې تعلیمي نصاب «څلور مقاصد» دي.

# د زده کړې او تجربې ډګرونه

همداشان لیک لوست، حساب زده کړه او ډیجیټالي مهارتونه، چې دا د **زده کړې او تجربې شپږ ډګرونه** ګډل کېږي. هر هغه څه چې ستاسې ماشوم يې زده کوي هغه به له دغو ډګرونو سره اړوند وي.




**دا تعلیمي حساب همداشان لاندې برخې له ځان سره لري:**

- د بشر حقونه
- تنوع او توپیرونو ته درناوی کول
- د مسلکونو لپاره تجربې او مهارتونه او کارځای
- د سیمه ییزو، ملي او نړیوالو شرایطو زده کړه
- د ودې مناسبې اړیکې او جنسي زده کړه.

# د زده کړې او تجربې ډګرونه



د **بیانولو په هنرونو** کې به ستاسې ماشوم هنر، نڅا، ډرامه، فلم او ډیجیټالي رسنۍ او موسیقي وسپړي تر څو خپل نوښتګرانه، هنرمندانه او د کارکړنې مهارتونه رامنځته کړي.



د **بشري علومو** په برخه کې به هغوی د تېرې او اوسنۍ نړۍ، ټولنې او غونډو په اړه زده کړه وکړي. هغوی به هغه ننګوونې او فرصتونه وسپړي کوم چې موږ ورسره مخ یو او دا چې موږ کومې اخلاقي کړنې تر لاس لاندې نیولای شو تر څو نړۍ او خلک په راتلونکې کې خوندي وساتو.




د **ریاضیاتو او حساب** په برخه کې به ستاسې ماشوم په ریاضي کې د شمېرو او سمبولونو د کارولو په اړه پوهاوی تر لاسه کړي. هغوی به اشکال او د اندازه ګیرۍ واحدونه وسپړي او د احصائیې او احتمالاتو په اړه به زده کړه وکړي.



**روغتیا او هوساینه** د هغوی د عاطفي هوساینې په ګډون د جسمي او رواني روغتیا په اړه ده.  هغوی به د سالم خوراک او دا چې څرنګه دواړه انلاین او افلاین مواد خوندي وساتي، په اغېزمنه توګه معامله وکړي او سالمې اړیکې ولري زده کړه تر لاسه کړي.



د **ژبو، لیک لوست او اړیکو** په برخه کې به ستاسې ماشوم د بېلابېلو ژبو په اړه زده کړه تر لاسه کړي. هغوی به وکولای شي چې ویلز، انګریزي او لږ تر لږه یوه بله له لومړنۍ ښوونځۍ څخه زده کړي. هغوی به د خپلو داستانونو، شاعرۍ او کارکړنو په ګډون ادبیات زده کړي.



په **ساینس او تکنالوژۍ** کې به ستاسې ماشوم د بیولوژي، کیمیا، فیزیک او کمپیوټر ساینس په اړه زده کړه وکړي. هغوی به د ډیزاین او انجینرۍ، ژوندیو موجوداتو، مادې، ځواکونو او انرژۍ او دا چې کمپیوټر څرنګه کار کوي، زده کړه وکړي.

# هغه څه چې اهمیت لري

ستاسې د ماشوم زده کړه باید پر هغو شیانو باندې تمرکز ولري کوم چې د هغوی لپاره اوس او کله چې هغوی لوئیږي، اهمیت لري.

د زده کړې او تجربې هره برخه کې د **هغه څه چې اهمیت لري بیانیې** شاملې دي چې د هر عمر لرونکو ماشومانو لپاره زده کړې ته بڼه ورکوي. دا ستاسې له ماشوم سره مرسته کوي تر څو د هغو شیانو په اړه فکر وکړي کوم چې دوی یې زده کوي او دا چې موضوعات څرنګه له یوه بله سره وصل دي او له کار او ژوند سره په عمومي بڼه تړلي دي. هغوی همداشان ستاسې له ماشوم سره مرسته کوي چې د خپل پوهاوي او مهارتونو په رامنځته کولو سره هر کال پرمختګ وکړي.

ستاسې د ماشوم لپاره نور ډېر فرصتونه شته تر څو د ژوند کولو مهم مهارتونه زده کړي کوم چې به له دوی سره مرسته وکړي تر څو:

- د خپلې شاوخوا نړۍ قدرداني وکړي
- پوښتنې وکړي، شواهد وګوري، تصامیم ونیسي او ستونزې هوارې کړي
- پلانونه وسپړي، په اړه یې خبرې وکړي او رامنځته یې کړي او حل لارې ورته ومومي
- انعطاف ولري او خپله هوساینه مدیریت کړي
- له یوه بل سره کار وکړي او
- د خپل راتلونکي مسلک په اړه له زده کړې، کار او تشبث څخه د اصلي تجربو له مخې تصامیم ونیسي.

**دا چې دا څرنګه کار ورکوي یوه بېلګه یې درته وړاندې کوو**

د ساینس او تکنالوژۍ د زده کړې او تجربې په ډګر کې، دا چې څه شی اهمیت لري داسې یوه بیانیه راغلې ده:

**«زموږ شاوخوا نړۍ له ژوندیو موجوداتو څخه ډکه ده چې هر یو یې د ژوندي پاتې کېدو لپاره په نورو پسې تړلې دي.»**

کله چې ستاسې ماشوم زده کړه کوي، نو هغه به په دې اړه په بېلابېلو لارو چارو سره فکر وکړي، لکه داسې:

- زه پوهیږم چې له خطر سره مخ ژاروي شته.
- زه پوهیږم هغه څه چې زه یې کوم هغه پر چاپېریال، خلکو او ژارویو باندې اغېز لري.
- زه کولای شم هغه لارې چارې په ګوته کړم تر څو پر چاپېریال، انسانانو او ژارویو باندې د اقلیم د بدلون اغېز را کم کړم.

# په يوه داسې ډول سره زده کړه کول کوم چې هغه ستاسې د ماشوم په ګټه ده

تعليمي نصاب داسې طراحي شوی تر څو ستاسې د ماشوم د پوهې، مهارتونو او تجربې په جوړولو کې مرسته وکړي.

څومره چې هغوی مخ ته ځي هغومره به هغوی:

- لا ډېر شيان زده کوي
- د کارونو په اړه به د هغوی پوه لا ژوره کېږي
- د هغوی د اړيکو مهارتونه به وده مومي
- د هغوی مهارتونه به ښه والی مومي.

داسې وختونه به هم راشي چې هغوی به:

- په چټکۍ سره مخ ته ځي يا
- به ورو کېږي تر څو ځان ډاډه کړي چې پر يوه موضوع پوه شي يا دا چې دوی داسې نوي شيان کشف کړي کوم چې ورسره لېوالتيا لري.

زده کړه تل د هغوی له عمر سره تړلې نه وي. دا به د هغوی د هر يوه لپاره په ورته ډول يا په ورته وخت کې نه پېښيږي.

## ارزونه

ارزونه به ستاسې د ماشوم د هرې ورځې زده کړې يوه برخه وي.

هغوی به له خپلو ښوونکو سره کار وکړي تر څو پوه شي چې خپل کارونه څومره په ښه توګه تر سره کوي. له هغوی سره مرسته کول مهمه ده تر څو:

- ووينو چې هغوی په خپله زده کړه کې چېرې دي
- د خپلې زده کړې د راتلونکو ګامونو په اړه پلان جوړ کړي
- يوه موضوع په ګوته کړي يا که چېرې اضافي مرستې ته اړتيا ولري

او دا چې د هغوی له ښوونکو سره مرسته وکړو تر څو:

- داسې لارې چارې ومومو چې هغوی وننګوو او
- ووينو چې زده کوونکي په خپلو کارونو کې څومره ښه دي.



**ښوونځی به هم له تاسې سره کار وکړي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې ستاسې ماشوم هغه مرسته لري کوم چې هغوی ورته د مخکې تګ لپاره اړتيا لري.**



# د راتلونکې لپاره په شرایطو برابر

هغه شرایط کوم چې ستاسې ماشوم یې له 16-14 پورې مطالعه کوي هغه به له تعلیمي نصاب سره مناسب وي.

په راتلونکې کې به د هغو وړتیاوو تر څنګ چې همدا اوس یې مورډ لرو، نور مضامین به هم وي. د وړتیاوو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دغه لینک ته ورشئ: https://qualifications.wales/information-support/information-for-parents-carers/


همداشان به بېلابېل ډولونه ارزونې وي، د بېلګې په توګه، کېدای شي ډیجیټال تکنالوژي وکارول شي.



د خپل ښوونځي د تعلیمي نصاب د جوړولو په برخه کې تاسې، ستاسې ماشوم او ټولنې ته یو فرصت دی.

هر هغه ځوک چې په ګډه سره هم په ښوونځي او هم په کور کې کار کوي، هغه به ستاسې له ماشوم سره مرسته وکړي چې غوره زده کړه تر لاسه کړي او هغوی راتلونکې ته چمتو کړي.

**د تعلیمي نصاب په اړه د لا زیاتو معلوماتو په خاطر د خپل ماشوم له ښوونکو پوښتئ.**



د **Education Wales** په یوټیوب چاینل کې د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او کورنیو لپاره د ویلز د تعلیمي نصاب په اړه د بریتانیا د اشاره اې ژبې **(BSL)** یوه ویډیو او په تعلیمي نصاب کې BSL شته.

همداشان تاسې کولای شئ لا زیاتو معلوماتو ته لاسرسی ولرئ

@WG_Education
@edubeginsathome

@EducationWales
@beginsathome